# ستا ژبه دې تل د الله په يادولو لنده وي

له عبدالله بن بسر رضي الله عنه څخه روايت دى چې يو سړي وويل: اې د الله رسوله! يقينا چې د اسلام احكام پر ما ډېر شوي دي، نو ماته داسې يو څه راوښيه چې زه پرې په ټينګه عمل وکړم، هغه وفرمايل: "ستا ژبه دې تل د الله په يادولو لنده وي".

[صحيح دی] [او ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

يو سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته شکايت وکړ چې نفلي عبادتونه پرې زيات شوي دي تر دې چې د کمزورۍ له امله يې نه شي ادا کولای، بيا يې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې داسې يو ساده عمل ته يې لارښوونه وکړي چې اجر يې ډېر وي، نو دی به پرې په دوامداره توګه ټينګار وکړي. نو هغه ته رسول الله - صلى الله عليه وسلم - لارښوونه وکړه چې په هر وخت او حالاتو کې د الله تعالى په يادولو سره خپله ژبه تازه او خوځنده وساتي لکه: تسبيح (سبحان الله) ويل، تحميد (الحمد لله) ويل، استغفار (استغفر الله) ويل او داسې نور.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4716

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee